ICRC

د ۲۰۲۴ز کال له جنورۍ تر جون پورې

# په افغانستان کې عملیاتي حقایق او شمیرې



## له روغتیایي پاملرنې ملاتړ

### لومړنۍ روغتیايي پاملرنې:

**۴۳۴،۸۱۲** ناروغان چې اکثریت یې ښځې او کوچنیان دي، د افغاني سرې میاشتې ټولنې په **۴۷** روغتیايي مرکزونو کې چې د آی سي آر سي له خوا یې ملاتړ کېږي، لومړنۍ روغتیايي پاملرنې ترلاسه کړې دي

**۱۴۸،۲۲۴** دوزه عادي واکسین د افغاني سرې میاشتې ټولنې په **۴۶** ملاتړ کېدونکیو روغتیايي مرکزونو کې تطبیق شوې دي

**۴۰۰۰** څخه زیات خوارځواکه کوچنیان د افغاني سرې میاشتې ټولنې په **۴٦** بنسټیزو روغتیايي پاملرنې کلینکونو کې چې د آی سي آر سي لخوا یې ملاتړ کېده، د تغذیې له پروګرامه برخمن شوي دي

افغاني سرې میاشتې ټولنې ته مالي مرسته چمتو شوه ترڅو د افغاني سرې میاشتې ټولنې د تغذیې په نوي جوړ شوي واحد کې د یادې ټولنې **۴٦** د تغذیې نرسانو او د تغذیې د ۲ مدیرانو معاشونه پرې راونغاړل شي

د افغاني سرې میاشتې ټولنې **۱٦۴** کلینکي کارمندانو مالي او تخنیکي ملاتړ ترلاسه کړی تر څو د روزنې په بېلابېلو ناستو کې ګډون وکړي

### د روغتون پاملرنه:

**۵** روغتونونو – د غزني حوزوي روغتون، د غزني ولایتي روغتون، د روخه ولسوالۍ روغتون، د خوست ولایتي روغتون او ترینکوټ ولایتي روغتون – ته د طبي د تجهیزاتو او اکمالاتو د بسپنې او د کارمندانو لپاره د لرې تروما د پاملرنې په اړه د روزنیزو ناستو د تنظیمولو له لارې ملاتړ چمتو شوی دی

**۱۲۱** طبي تجهیزات او همداراز د تروما یوه کڅوړه **۵** روغتونونو ته وسپارل شوه، ترڅو د **۵۰** ناروغانو درملنه پرې وشي.

**۴۰** د روغتیايي پاملرنې کارمندان د بنسټیزې بېړنۍ پاملرنې په درې کورسونو کې وروزل شول

**۴٦** د روغتیايي پاملرنې مسلکي کسانو په غزني زون کې د آی سي آر سي له خوا په ملاتړ کېدونکي د تروما په **۵** روزنیزو ناستو کې ګډون وکړ

## روغتیایي ښوونه:

د غضنفر د روغتیایي علومو د انستیتوت **۹** څانګو د خپلو جاري لګښتونو لپاره مرستې ترلاسه کړي، ترڅو د نرسانو، قابله وو او روغتیایي تکنیشنانو لپاره د روزنیزو ناستو تداوم ډاډمن کړي

**۳،۹۱۲** زده کړیالانو (**۲،۰۲۹** ښځینه او **۱،۸۸۳** نارینه زده کړیالانو) د غضنفر د روغتیایي علومو د انستیتوت په **۹** څانګو کې نوملیکنه وکړه. د غضنفر د روغتیایي علومو د انستیتوت په ۹ څانګو کې ښځینه کارمنداني د ټولیزو کارمندانو ٪۳۰جوړوي.

## لومړنۍ مرستې:

**۲۳۷** لومړني څواب ورکوونکو ته په بېلابېلو ولایتونو کې د **۱۵** بنسټیزو لومړنیو مرستو د روزنې د ناستو له لارې روزنه ورکړل شوه او د لومړنیو مرستو **۲۳۷** کڅوړې وروسپارل شوې

## عاجل اقدام:

**۱۰۷** د عاجلې ټروما کیټونه د عامې روغتیا وزارت روغتونونو، د روغتیایي پاملرنې لومړنیو مرکزونو او پوځي روغتیایي کلینکونو ته ورکړل شول، چې د پراخو مرګ ژوبلو په عاجلو حالاتو کې د ناروغانو درملنه کوي.
هر کیټ/کڅوړه له ۳۰ څخه تر ۱۰۰ ژوبل شویو کسانو درملنه کوي.

# د فزیکي بیارغونې چوپړتیاوې

**۹۹،۴۵۷**
ناروغانو سره د آی سي آر سي لخوا په ملاتړ کېدونکو د فزیکي بیارغونې په 7 مرکزونو کې مرسته وشوه

**۸،٦۴٦**
نوي ناروغان ثبت شوي چې له **۵۸۹** کسانو څخه پکې پښې او لاسونه پرې کړای شوي دي.

**۱۵،۵۴۵**
پروستیز او ارتوزیس تولید شوي.

**٦۷،۹۸۴**
فزیوتراپیکي درملنې ترسره شوي.

**۵،۲۴۹**
کورنۍ لیدنې ترسره شوي ترڅو له **۲،۷۳۴** ناروغانو سره مرسته وشي

**۲۸۴**
ناروغانو کوچني پورونه ترلاسه کړي.

**۱۸۰**
ناروغانو حرفوي زدکړې کړي.


Masoud SAMIMI/ICRC

اووه کالن عبدالله د پښو د کوږوالي ستونزه لري، د آی سي آر سي یو اورتوپیدي مرکز ته د درملنې لپاره راغلی دی.

# له آزادۍ د بې برخې شویو وګړیو په ګټه فعالیتونه

د ټول هېواد په **۱۵** توقیفځایونو کې د توقیف **۳۰** لیدنې ترسره شوې

**۸۰۰۰** بندیانو په **۵** توقیفځایونو کې د خوړو میاشتینۍ مرسته ترلاسه کړې. د زندانونو چارو د سمون اداري، د محبس د کارمندانو او د عامې روغتیا وزارت د فوکل پواینټونو لپاره د خوړو د لړۍ د سنبالنې یا مدیریت او د تغذیې د سروې ګانو په اړه ورکشاپونه او روزنیزې ناستې ترسره شوې دي

د محابسو د روغتیایي چوپړتیاوو له کڅوړې څخه د آی سي آر سي د ملاتړ د یوې برخې په توګه په هرات او سرپوزه ولایتي محابسو کې تر **۲۱،۰۰۰** ډېرو بندیانو ته طبي سلا-مشورې چمتو کړای شوې‌دي.

د خدمتونو د ترسره کولو لپاره مور عامې روغتیا وزارت ته مالي، لوجستیکي او تخنیکي ملاتړ چمتو کړی‌دی

د ولایتي محابسو د روغتیایي کمیټې او د محابسو د روغتیایي د فرعي کاري ګروپ دوره یې ناستو ته اسانتیا برابره شوه تر څو د بندیانو لپاره د باکیفیته روغتیایي پاملرنې چوپړتیاوو ته له لاسرسي څخه ملاتړ وشي. د محبس د روغتیایي پاملرنې کارمندانو ته هم میاشتیني ورکشاپونه جوړ شول.

هرات ولایتي محبس ته د تغذیې د څارنې د وسایلو بسپنه وشوه ترڅو د تغذیې د حالت د سکرینګ بهیر ته پرې وده ورکړل شي. پردې سربیره، **۸۰** ښځې په محبس کې د سپږو د شیوع یا خپربدا پر وړاندې له هغه اقدامه هم برخمنې شوې چې د آی سي آر سي لخوا یې ملاتړ کېده.

په ټول هېواد کې تر **۶۰** زیاتو بندیانو د فزیکي بیارغونې چوپړتیاوې ترلاسه کړې.

د محبس د ښه سنبالنې یا مدیریت په اړه د محبس تر **۱۶۰** ډېرو کارمندانو ته **۶** ورکشاپونه جوړ شول.

تر **۱۵،۰۰۰** ډېرو بندیانو ته په **۱۵** توقیفځایونو کې کیټونه یا کڅوړې چمتو کړای شوې ترڅو خپلې شخصي روغتیاساتنې او دهغې وضعیتونه ته پرې وده ورکړي.

په بلخ ولایتي محبس کې ښځینه بندیانو ته د خوب یا ملاستې وسایل چمتو کړای شول

په بلخ او کندز ولایتي محابسو کې بندیانو ته تفریحي او ښوونیز توکي چمتو کړای شول

**۳۰** ښځینه بندیانو ته په سرپوزه ولایتي محبس کې د محبس د خیاطۍ په ورکشاپ کې د ګنډلو او خیاطۍ روزنه هم چمتو کړای شوه.




په سرپوزه ولایتي زندان کې د حفظ‌الصحي توکو د وېش بهیر




له پنځه کالونو وروسته د يوې مور او زوی يو ځای کېدل

## د کورنيو اړيکو ساتنه

د **۱۱۳** لادرکه کسانو پېښې اوارې شوې او د دوی ځای ځايگی معلوم شو

**۳** ټيلي کنفرانس اړيکو ته زمينه چمتو شوه، په گوانتنامو کې د ساتل کېدونکيو بنديانو او په افغانستان کې د دوی د کورنيو ترمنځ د سره صليب **۵۰** پېغامونه ( چې پکې لنډ کورني معلومات هم شامل دي) تبادله شوي دي

**۸۱** د سره صليب پېغامونه او **۱** سلامت ( لنډ غږيز پېغامونه) په افغانستان کې د بنديانو او د دوی د کورنيو ترمنځ تبادله شوي دي

**۷** تنو د Trace the Face آنلاين چوپړتياوو له لارې له خپلو کورنيو سره اړيکې ټينگې کړې

**۱،۲۴۷** کسانو په افغانستان کې له آی سي آر سي سره اړيکه نيولې تر څو د خپلو عزيزانو پلټنه وکړي

## د ملکي وگړو خونديتوب

موږ د بشرپاله وضعيت څارنې ته دوام ورکړي او د اړتيا پر مهال موږ له وسله وړونکيو کسانو سره د دوی د چلن په اړه په محرمانه او دوه اړخيزه توگه اندېښنې راپورته کړي چې په دې توگه د خلکو د حقوقو له ناوړه گټنې مخنيوی وشي.

موږ په بېلابېلو ولايتونو کې له ټولنو سره ښکېل يو، چې د دوی د خونديتوب اندېښنې په غوره توگه درک کړو او داسې لارې چارې ومومو چې پر دوې باندې بشرپال اغېز رامحدود کړي.

## د مړو باعزته سنبالنه

د آی سي آر سي په ملاتړ د عدلي طب لخوا له درست هېواده راغليو د عدلي طب **۲۴** کارمندانو ته د عدلي طب پنځه ورځنۍ تخصصي روزنه ترسره شوه.

په کابل کې د پوليسو **۲۰** تنه پرسونل ته د عدلي طب د حساس سازۍ (سېنسټايزېشن) په اړه درې ورځنې ناسته تنظيم شوې وه ترڅو د عدلي طب رياست او پوليسو ترمنځ همکاري زياته شي.

له **٦** عدلي طب رياستونو څخه تخنيکي کارمندانو د کابل له عدلي طب څخه د لس ورځينۍ ليدنې لپاره ملاتړ ترلاسه کړ.

د لادرکه خلکو د ستونزو د ګوته کولو لپاره د عدلي طب د چوپړتياوو د اهميت په اړه له بېلابېلو چاراواکو سره يو ګردی ميز ترسره شو.

د عدلي طب **١٢** متخصصينو د انساني اجسادو د سنبالنې او پېژندنې په هکله په عدلي طب رياست کې جوړ شوي ۵ ورځني ورکشاپ کې ګډون وکړ.

د مُرده خانو **٧** يخچالونه ، **٢** مرده خانې او يو کانټېنر ترميم شول تر څو په عدلي طب رياست کې د مُرده خانې د زېرمه کولو وړتيا ته پرې وده ورکړل شي




د لغمان په علينګار ولسوالۍ کې خلک له رغول شوي لاسي پمپ څخه اوبه لاسته راوړي.

## له خلکو سره مرسته

**٢٠٣** کورنی (**١،٩١٣** کسانو) چې د تاوتريخوالي يا د وسلې د ککړتيا له کبله زيانمنې شوې وې، نقدي مرستې ترلاسه کړې ترڅو خپلې مالي اغېزو سره پرې مقابله وکړي.

د افغانستان برېښنا شرکت ته د ټرانسفرمرونو د تيلو، برېښنايي تجهيزاتو او ټرانسفرمرونو د بسپنې له لارې تر **٢١١،٠٠٠** څخه ډېرو کسانو دوامداره او ښه برېښنا ترلاسه کړې ده.

تر **٧٥،٠٠٠** ډېرو خلکو چې په کليوالو سيمو کې اوسېږي د **٥٠٠** لاسي پمپونو د ترميم له لارې يې د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی موندلی دی

**٣٩٦** کورنی (**٣،١٦٨** کسانو) په هرات، کندهار او پنجشير کې د کار په مقابل کې د پيسو د پروژو له لارې عايد ترلاسه کړی، د ټولنو د اوبو لګولو د زېربنا بيارغونه وشوه، د سيلاب د مخنيوي اقدامات پلي شول ترڅو د کرنيزو ځمکو ساتنه وشي او يو چک ډېم جوړ شو.

تر **٦١،٠٠٠** ډېرو خلکو چې په ښاري سيمو کې اوسېږي؛ نو د نوي جوړې شوي بېخبنا له لارې يې د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی وموند،

# له افغاني سرې میاشتې ټولنې سره ګډ کار

## له سرې میاشتې سره شوې بسپنې:

د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرکزي دفتر ته بېړنۍ مالي مرسته چمتو شوه تر څو په ټول هېواد کې سیلاب او زلزله ځپلو کورنیو سره پرې مرسته وکړي

مالي مرسته چمتو شوه چې د **۱۰۹** کارمندانو معاشونه، د **۴۲** دفترونو جاري لګښتونو او کوچني بیارغاونیزې پروژې پرې راونغاړل شي.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې له عملیاتي اقدام څخه د ملاتړ په موخه د **۲۲** موټرو بسپنه وشوه

د افغاني سرې میاشتې ټولنې له مرستون ( چې ټولنیز خیریه مرکزونه دي) سره د **۶۰** ویلچیرونو بسپنه وشوه

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د مرکزي دفتر له مخابرې له مرکز سره د ایچ ایف/ وي ایچ ایف د تجهیزاتو بسپنه وشوه

## وړتیا لوړوونه:

د سرې میاشتې **۸۵** کارمندانو او خپلخوښو د خوندي لاسرسي د کارچوکاټ په برخه کې روزنه ترلاسه کړه، ترڅو خپل لاسرسي، امنیت او منلتیا ته پرې وده ورکړي

د سرې میاشتې د خوندیتوب او امنیت **۱۵** کارمندانو ته د امنیتي خطر د سنبالنې په برخه کې روزنه ورکړل شوه

د سرې میاشتې د خوندیتوب او امنیت د کارمندانو لخوا د سیمه یزو دفترونو او څانګو **۶** امنیتي ارزونې ترسره شوې




د تخار ولایت په ینګی قلعه ولسوالۍ کې د آی سي آر سي په ملاتړ د پیسو په مقابل کې د کار پروژه

## د وسلې ککړتیا په ګوته کول

له شمال ختیځ او مرکزي سویل لویدیځ سیمو څخه د سږې میاشتې **۴۰** کارمندانو د خطر د پوهاوي او خوندي چلن په اړه روزنه ترلاسه کړه

د سرې میاشتې **۳۲۰** کارمندانو او د آی سي آر سي **۴۳۰** کارمندانو د کارمندانو د خوندیتوب روزنه ترلاسه کړه

## د اساسي بشرپاله قواعدو او اصولو دودوالی

د آی سي آر سي د فعالیتونو او د قانون په انفاذ کې د قوې د کارولو په هکله په ترسره شویو ناستو کې د کورنیو چارو وزارت **۴۱۸** منصوبینو ګډون کړی دی.

## د آی سي آر سي د فعالیتونو په اړه د ټولنې شکېلتیا او مفاهمه

**۲،۲۵۳** د ټولنې مشرانو او غړو د آی سي آر سي د فعالیتونو په اړه په **۱۰۰** ناستو کې ګډون وکړ

**۱،۱۷۵** مذهبي او د ټولنې مشرانو او د آی سي آر سي ارتباطي اشخاصو په **۳۴** روڼه ماتیو کې ګډون وکړ چې د روژې په میاشت کې په ټول هېواد کې د آی سي آر سي په ګڼو دفترونو کې ترسره شوې وې.




آی سي آر سي د مېرویس حوزوي روغتون سره د برېښنا په چمتو کولو کې مرسته کوي.


**د لا زیاتو معلوماتو لپاره:**
**kabul@icrc.org**


**د کابل مرکزي نماینده‌گي**
۱۵ سړک، ۱ کوڅه، ۴ کور
وزیر اکبر خان، کابل

اړیکشمېره:۰۷۹۹۵۵۰۰۵۵
وېبپاڼه: www.icrc.org


آی سي آر سي، جولای ۲۰۲۴


ICRC




**نښې**

- د آی سي آر سي نمایندگي
- د آی سي آر سي فرعي نمایندگي
- د آی سي آر سي دفتر
- د آی سي آر سي اورتوپیدیک مرکز
- د آی سي آر سي آنتن

facebook.com/ICRCaf
twitter.com/ICRC_af
instagram.com/icrc


2024.07/500/Cover Photo: Masoud SAMIMI/ICRC